جهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

PROPERTY OF ACKU

په کندز کي درژیم ۱۳ پوستي فتحه شوي

کندز :
دکندز له ولایت څخه دجهادي منابعو درپوټ له مخي ویل کیږي چي مجاهدینو تیره اونۍ ددي ولایت دارچي او خان اباد ولسوالیو تر منځ په سیمه کي دبدنام رژیم ۱۳ پوځي پوستي فتحه اودښمن ته یي دسر اومال درونـد تاوان ورواړاوه .
رپوټ وایي ددي پوستو ټول نظامي پرسونل دمجاهدینو له خوا په اسارت ونیول شول ، اویي شمیره غنایم هم په لاس ورغلل ، چي یوازي د٥٢ میله کلاشینکوفونو ارقام تراوسه څرګند شوي ویل کیږي چي نوموړي اکمالاتي دوره اوس په بشپړ ډول دمجاهدینو په لاس کي ده .

دخوست دازادي لومړي کلیزه ولمانځل شوه

خوست ، د حمل ١٤مه :
دازاد خوست څخه دجهاد هنداري دخبریال درپوټ له مخي تیره اونۍ دخوست دولسي خلکو او مجاهدینو له خوا دخوست دازادي لومړي کلیزه دیوي درنې غونډي په ترځ کي ولمانځل شوه .
رپوټ زیاتوي پدي غونډه کي دج ، ج محاذ دعمومي قوماندانانی مرستیال اودازاد خوست والي الحاج مولوي نظام الدین حقاني اودحزب اسلامي دجهاد وال هوند رئیس ارکان محمد حکیم «مکرم » وینااوي وکړي ، اودجهاد په روانه وضعه یي رڼا واچوله .
رپوټ وایي: دغه ستره غونډه دګڼون کوونکو په یوه سترمارش سره پاي ته ورسیده چي انقلابي اواسلامي شعارونه پکي زمزمه کیدل .

دوهم کال ٢٤ مه (پرله پسي ٧٦مه) ګڼه یکشنبه د ١٣٧١ هـ ش کال دحمل ٢٣ مه د١٤١٢ هـ ق کال دشوال المکرم ١٠ مه د١٩٩٢ میلادي کال داپریل ١٢ مه

دځمکی له لاری کابل ته دامدادي غنمودلیږلو په اړه :

دمجاهدینو دمشرانو او دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت دمسؤلینو خبري ناکامی شوی

په ٨ مخ

دشوروي تر زوال وروسته :

دګورباچوف اودهغه دکورني ژوند!

په ٥ مخ

دهیواد پیاوري لیکوال ، محقق اوعـلـمـي شخصیت استاد احمد زي شهید شو ! انالله وانااليه راجعون

په ٧ مخ

سرمقاله

دملګرو ملتونو دطرحي یوه بله پانه

لکه چی خبری اژانسونو څرګنده کړیده دافغانستان دربړی دحل په رابطه دملګرو ملتونو دسولی طرحه یوه نوی پړاوته داخله شویده ، دوروستیو انکشافاتو له مخی دملګرو ملتو دسرمنشی ځانګړی استازی بینن سیوان دلویی جرګی دراپللو او له هغی لاری دعبوری حکومت دجوړولو په ځای دیوی بیطرفي پنځلس کسیزه شورا جوړیدل او پدی رابطه دګنو اړخو دتوافق دترلاسه کولو اعلان کړی چی هغه به له نجیب څخه په سوله ایزه بڼه قدرت اخلی او دیوی یاهم یوی نیمی میاشتی په اوږدو کی به د لنډ مهالی حکومت دقیام لپاره لار اواره وی .
دملګرو ملتونو سرمنشی بطروس غالی څرګنده کړیده چی داپنځلس کسیزه شورا به چی دټولو خواوو پری سلاڅرګنده شویده داپریل میاشتی ترپای پوری له نجیب څخه واك ترلاسه

په ٨ مخ

۲ لکه برمایي مهاجرین به خپل وطن ته بیرته ستنیږي

جینوا ، دالمان اژانس :
دملګرو ملتودسازمان عمومي منشي بطروس غالي تیره ورځ په جینیوا کي په یوه مطبوعاتي کنفرانس کي داخبره وکړه چي به بنګله دیش کي هستوګن ۲ لکه برمایي مهاجرین به ډیر ژر بیرته خپل هیواد ته لاړشي.
ده وویل چي دغه مهاجرین به دهغه تړون له مخي بیرته برماته ځي کوم چي دبرمااوبنګله دیش دواکمنو ترمنځ لاسلیك شوي خوتراوسه دبرمایي مهاجرینو دبیرته تللو دقیقه نیټه نده معلومه شوي .

ایا کودتا واقعي اوامناکه حل رامنځ ته کولای شي ؟

په ٣ مخ

سازمان ملل تحفظ وامنیت نجیب را بعد از سبکدوشي تضمین می کند

مذاکرات مهم بینن سیوان و نجیب

درصفحه ٨

دپانامی پخوانی جمهور رئیس «نوریګا » په ١٢٠ کاله قید محکوم شو

پانامه -سی -این -این تلویزیون
دپانامی پخوانی جمهور رئیس جنرال نوریګا چی په لسو مختلفو اتهاماتو باندی متهم وو ، دهغی نه ٨ اتهامه دیوی محاکمی په ترځ کی پری ثابت شول چی دهغی له امله جنرال نوریګابه (١٢٠)کاله قید باندی محکوم شو .
پر جنرال نوریګاچی دمخدره موادو په تجارت ، دانسانانو په تښتولو او قتل باندی متهم دی ، دقیدنه علاوه نقدی جریمه هم لګول شوی ، چی که دهغی له ورکولو څخه ډډه وکړی نو نید به یی (١٦٠) کالونو ته لوړ کړای شي .
دیادونی وړده چی جنرال نوریګا تیر کال پر پانامه باندی دامریکا یی پوځ دیرغل په ترځ کی ونیول شو ، او دمخدره موادو په تجارت تورن کړای شو .

دامریکا اواسرائیلو نژدیوالي اوداسلامي نړي چوپتیا

په راتلونکي ګڼه کي

الحاج مولوي نظام الدين « حقاني » دجهاد هنداري سره په مرکه کي :

په خوست کي دمجاهدینو له خوا واحده اسلامي اداره جوړه شوه

اختلافات دسیاسي لیدرانو په منځ کي دي ، مجاهدین او قوماندانان په خپلو منځو کي پوره متفق دي

په ٢ مخ کي

پلي کندك نظامي رژیم درهرات بشمول ١٢٠ فامیل به مجاهدین پیوست

٦٠ میل کلاشینکوف ١٥ میل راکت ومهمات فراوان به غنیمت گرفته شد

درصفحه ٨

دروسیی سره دلویدیز هیوادو٢٤ میلیارده دالر مرسته

واشنګتن -جنګ ورځپانه
دامریکی متحده ایالاتو او ځینو نورو لویدیزو هیوادو دروسیی سره د٢٤ میلیارده دالر مرستی اعلان کړی .
بل لوری ته ویل شوی چی ددی مرستی په هکله دجاپان له حکومت سره چی دمرسته کوونکو هیوادو په ډله کی شامل دی څه سلامشوره نوه شوی .
خبری منابع وایی دامریکاجمهور رئیس جارج بش دیوی مودی نه راپدیخوا دامریکا دیوی حلقی له خوا تر فشار لاندی وو تر څو روسیی ته عاجله مرسته برابره کړی . دیادونی وړده چی څه موده پخوا دروسیی جمهور رئیس بوریس یلتسن دفرانسی څخه دیوی لیدنی کتنی په ترځ کی لویدیزو هیوادو ته ویلی وو چی که دده حکومت ته عاجله اقتصادی مرسته برابره نشی نوددی امکان شته چی تندروه کمونیستان یو ځل بیا روسیه کی اقتدار ته ورسیږی

پرګردیز باندی دمجاهدینو بریالی راکټی حمله

دګردیزد راډیو استیشن تخریب شو

په ٨ مخ کي

دمسلمانانو په بیداری ، وحدت او جهاد کی دامت ازادی اوعزت نغښتی دی

الحاج حقانی

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقانی
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

کشورهای آسیای میانه واینده آنها

عبدالوکیل

زمانیکه کشورهای اسلامی آسیای میانه تحت تسلط استعمار روس درنیامده بودند کشورهای مستقل ودارای تمدن وپیشرفت نسبتاً عالی بودند درحالیکه روسها درقرن ۱۶ م زمانیکه به استعمار وتحت تسلط در اوردن کشورهای مستقل اغاز کردند دارای زندگی بدوی بودند ، اینها توسعه طلبی و اشغال خاك دیگران رابه سوی جنوب ادامه دادند وازقرن ۱۶ الی قرن ۱۹ به دریا امو رسیدند وهمه کشورهای اشغالی اسیای میانه راجز خاك امپراطوری روس خواندند اما زمانیکه درسال ۱۹۱۷ م کمونستان روس قدرت سیاسی را در روسیه به دست گرفتند ، ثمرقند وبخارا که تا هنوز زندگی مستقل را ادامه میدادند نیز اشغال وجز امپراطوری کمونستی خویش ساختند.درمدت بیش ازهفتاد سال که کمونستان روس بالای کشورهای اسلامی اسیای میانه حکومت کردند تمدن اسلامی وپیشرفت ها اقتصادی ، فرهنکی و سیاسی را از بیخ وبن دگر گون ساختند وبه جای ان ایدیالوژی وسیستم کمونستی راترویج دادند باوجود انکه دراین دوران امپراتوری روس در مقابل امپراتوری انگلیس نسبتاً ضعیف بود اما بعد ازجنگ جهانی دوم امپراتوری کمونستی روس در مقابل ایالات متحده امریکا وجهان غیر کمونیست منحیث یك موجود خطرناکتر از همه عرض اندام نمود.درین دوران امپراتوری کمونستی روس وایالات متحده امریکا که از جمله ابرقدرت های جهان به شمار می رفتند علیه یکدیگر به مبارزه شدید وآشتی ناپذیر ادامه دادند . روس ها درمرحله یکه در رابطه به داشتن سیستم کمونستی از رشد وانکشاف سریع اقتصادی ، سیاسی و فرهنگی عقب می ماندند .

درسال (۱۹۷۹م) افغانستان راتوسط نیروهای نظامی خویش اشغال وبه جنگ مرگباری دست وگریبان گردیدند . افغانها درطول ده سال جهاد مسلحانه در مقابل استعمار کمونستی روس توانستند ضربات اقتصادی وسیاسی جبران ناپذیری را برپیکر امپراتوری کمونستی روس وارد سازند وزمینه خوبی را برای نفوذ شبکه های استخباراتی جهان غیر کمونیست در دستگاه استخباراتی روس (کی جی بی) مهیا نمایند که در نتیجه امپراتوری خون اشام کمونستی روس به برکت جهاد افغانها توسط نیروهای غیر کمونستی از داخل منفجر گردید وکشورهای تحت سلطه ان ازجمله کشورهای اسلامی اسیای میانه ، استقلال خویش را اعلام نمودند . مطلب قابل توجه وبا اهمیت این است که اینده این کشورهای جدید به ازادی رسید چه خواهد شد ودرپرتونظام جدید جهانی ایالات متحده امریکا چه موقفی خواهند داشت ؟

کشورهایکه تحت تسلط امپراتوری کمونیستی روس بودند ازان جمله کشورهای اسلامی اسیای میانه کشورهای بودند که ایدیالوژی وسیستم کمونیستی وتسلط روس ها بالای انها تحمیل شده بودند واکنون نیز این ازادی واستقلال درنتیجه سقوط امپراتوری کمونیست روس توسط نیروهای غیر کمونیست میسر گردید ونیروهایکه در سقوط این امپراتوری نقش مهم ولی نامحسوس داشتند در کشورهای اسیامیانه نیز از نفوذ خاص برخوردار میباشند .

اکنون که کشورهای اسیای میانه استقلال خویش را اعلام نموده اند کشورهای اسلامی وغیر اسلامی ، کمونیست وغیر

بقیه درصفحه ۷

اختلافات دسیاسي لیډرانو په منځ کي دي ، مجاهدین او قوماندانان په خپلو منځو کي پوره متفق دي

پوښتنه : محترم مولوی صاحب څه موده مخکی‌مو په‌خوست کی‌د مجاهدینو له خوا دیوی واحدی اداری دجوړیدو طرحه ترلاس لاندی نیولی وه تاسی ته چی دټولو مجاهدینو له خوا ددغی طرحی دعملی کولو اختیارات درکړل شوی ، هیله ده ووایاست چی په دی هکله څومره پرمختګ شویدی ؟

> یو کال کیږي چي مجاهدینو خوست ازاد کړي پدي نژدي وختو کي به انشاالله ګردیز او غزني هم فتحه کړي نجیب ځکه وارخطا دي اونه پوهیږي چي څه وکړي .

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم . الله (ج) فرمایی : «ترجمه : په تحقیق سره الله (ج) چی دی امر کوی تاسوته دورکولو دامانتونو اهل خپل ته »

نوموړ هم دخوست دفتحی وروسته سره راټول شوو ، تر څو یوه واحده اداره جوړه کړو اوددی ادرای کارونه اهل کسانو ته وسپارو چی ددی کار دپاره قوماندانانو ډیر تکلیفونه وګالل او ډیری غونډی یی وکړی ، ماته داختیاراتو راکولو مخکی موږ یوه مسوده جوړه کړه ، چی په دی مسوده کی ۱۸مادی شاملی دی په دی ۱۸ مادو کی په عالی او اجرائیوی شورا کی دداخلیدو شرایط او هم دهغه چادپاره چی امریت ورسپارل کیږی ، شرایط ټاکل شوی او لیکل شوی دی او داسی فیصله هم شویده چی که په دی مادوکی چا اختلاف کاوه یاچا جنجال جوړاوه دابه قضا ته سپارل کیږی بیا چی کله عالی شورا وغوښتل شوه ، ترڅو غونډه وکړی په دی کی دمجاهدینو څه اختلافات وو ، دځینو قوماندانانو او مشرانو دانظر و چی عالی شورا دی قومی جوړه شی او ځینو داغوښتل چی په تنظیمی شکل دی جوړه شی خو په قومی شکل سره دمجاهدینو خوښه نه وه ځکه په قوم کی داسی خلك شته چی هغه مجاهدین نه دی او بل داچی دقوم څخه حکومت نه جوړیږی ځکه چی په قوم کی تفرقه پیدا کیږی یو قوم دبل قوم په مقابله کی ودریږی دقومونو تر منځ اصول او رواجونه مختلف وی حکومت په خلکو کی یو اسلامی قانون جاری کول غواړی نوددی کار دپاره داضرورنه ده چی دچاقومیت په نظر کی ونیول شی نو دمجاهدینو دجملی څخه الحاج مولاناجلال الدین حقانی مولوی میرداد ، دحزب اسلامی دغوندرئیس ارکان ، دملی محاذ قوماندان حاجی عبدالرحمن ، دجمیعت اسلامی قوماندان مولوی محمد شریف او داتحاد اسلامی قوماندان مولوی پیرمحمد ، دی ټولو مشرانو اوقوماندانانو دقومیت خبره رد کړه دوی وویل چی دقوم څخه حکومت نه شی جوړیدای ، ددی وروسته دقوماندانانو قومی مشرانو او علما وڅخه یوه ۳۰ نفری کمسیون جوړ شو ، چی دکمسیون دغړو له خوا دمسودی ۱۸ مادی درایو په اتفاق ومنل شوی یوازی دوو ، دریو تنو مخالفت وکړ چی هغوی ته هم قناعت ورکړ شو او وروسته راضی شول ددی وروسته په میلمه کوټ کی چی دکوچیانو مجاهدینو مرکز دی دکمسیون دغړو دجملی څخه موږ ۱۰ تنو ته اختیارات راکړل شول تر څو واحده اداره ،عالی شورا ، اجرایوی شورا او نور ارګانونه جوړ کړو ددی مکملو اختیاراتو وروسته دټاکل شوو لسو تنو له خوا ماته اختیار راکړل شو، ترڅوعالی شورا جوړه شی ، وروسته دټولو په موافقه دقوماندانانو ، قومی مشرانو او علماوو څخه د ۳۰۰یا ۳۵۰ تنو په شاوخوا کی اشخاص راوغوښتل شول ، دخوست په مرکز کی ددی عالی شورا له خوایوه اونی مباحثی او مشوری وشوی په اخر کی درایو په اتفاق دکمسیون له خوا دمسودی ۱۸ جوړی شوی مادی تصویب شوی او دسند په شکل دشورا دټولو غړو امضاګانی واخیستل شوی ، وروسته بیا یو هیئت رئیسه وټاکل شو چی په دغه هئیت کی دهر تنظیم څخه شپږ تنه ګډون لری او لسو ریاستونو لپاره به هم لس تنه ټاکل کیږی چی دا لس تنه به داجرائیه شورا غړی هم وی په اخر کی دهر تنظیم له خوا شپږ تنه دهیئت رئیسه لپاره او یوتن داجرائیه شورا لپاره معرفی شو ددی کسانو دتزکیی وروسته د۱۳۷۱کال د حمل په اوله او دوهمه نیټه دکمسیون له خوا دوه غونډی وشوی ددی غونډو وروسته دکمسیون له طرفه ما او حاجی عبدالرحمن ته اختیارات راکړل شول تر څو ریاستونه په تنظیمونو. وویشو، بیا نهه ریاستونه داسی وویشل شول :

۱- دقضاریاست حرکت انقلاب اسلامی مجاهدینو ته د مولوی محمد نبی په مشری

۲- ددارالانشا اومالیی ریاستونه دحزب اسلامی مجاهدینو ته د حکمتیار صاحب په مشری

۳- دامنیت اوفرهنګی ریاستونه د حقانی صاحب مجاهدینو ته

٤- دبیا ودانولو ریاست دملی محاذ مجاهدینو ته

٥- دصحی ریاست دجمعیت اسلامی مجاهدینو ته

٦- دمخابراتو اوبو او بریښناریاست دجبهه نجات ملی مجاهدینو ته

٧- دتعلیم او تربیی ریاست داتحاد اسلامی افغانستان مجاهدینو ته

په ذکر شوو ریاستونو کی ځنی ریاستونه لوی دی اوپه خپل تشکیل کی څو امریتونه لری فعلاً دامنیت صحی تعلیم او تربیی او اوبو اوبریښنا ریاستونه فعال دی او نور ریاستونه به هم په نژدی راتلونکی کی په کار پیل کوی .

پوښتنه : طبعی خبره ده چی دجنګ په جریان کی خوست ته په هره برخه کی دکتنی وړ زیانونه اوښتی دی چی طبعاً بیا جوړونی ته ډیر ضرورت لری په دی هکله چی کوم پروګرامونه په لار

> په ګردیز کي ولسي خلك هم دنجیب مخالفت کوي ځکه چي هلته یي هم دتاجکو او پښتنو تر منځ تفرقه اچولي ده اودغه خلکو درك کړي چي یوازي اسلامي قوانین کولای شي چي ټول مشکلات حل کړي

اچول شوی هیله ده چی دهغو دموفقیت په هکله دجهاد هنداری لوستونکو ته معلومات ورکړی ؟

ځواب : دبیا ودانولو لپاره دسرکونو اوپلونو په جوړولو او همدارنګه کورونو په ترمیمولو کار جریان لری ، دتعلیم او تربیی په برخه کی هم ډیر کار شوی او جریان لری فصلونه هم کرل شوی او دصحت په برخه کی هم پوره کار روان دی .

په ٦مخ

ایا کودتا واقعي او امناکه حل رامنځ ته کولي شي؟

جرأت جهاد گر

دحمل په ٤ نیټه دنړی خبری منابعو رپوټ ورکړچی په کابل کی ارگ ته نږدی سختی دزی شوی او اټکل بی څرگند کړچی په پوځ کی دننه به یوی پوځی کودتابنه نیولی وی - دپوځی کودتاخبری ان له پخوادمقاومت دځینو اړخونو له خواکیدلی او ویل کیدل چی په همدی منظوریی خپلی قواوی کابل ته نژدی ځای په ځای کړی ثودپوځی کودتاپه صورت کی دپوځ دملاترلپاره په اقدام لاس پوری کړی او دنجیب درژیم له سقوط سره په وضعه او حالاتو کنترول ومومی .

دکودتا اوازی هغه وخت نوری هم تودی او خوری شوی چی دحزب اسلامی مشرمحترم حکمتیار دملگروملتونو دخاص استازی بینین سیوان دهلوځلو په رابطه دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل :مجاهدین به دملگروملتونو دطرحی دعملی کیدو له نیتی دمخه دنجیب رژیم راوپرځوی - ښاغلی حکمتیار دپوځ دننه دنجیب دمخالفینو موجودیت ،نقش او قوت ته په اشاری کولو زیاته کړه چی: له حزب سره درژیم او پوځ گڼ شمیر افسران په تماس کی دی او هیله ده چی دیوه گډ اقدام له اړخه به په نژدی کی دنجیب رژیم نسکورکړی . په کابل کی دکودتاپه هکله اوازی څه نوی خبره نده بلکی دااوازی نژدی دری کلنه ماضی او سابقه لری او دروسانو له ایستلو وروسته وخت په وخت ددغه ډول اقداماتو په رابطه خبرونه او تبصری خپری شویدی .

دشاهنوازتنی کودتاددغه ډول احتمالی کودتاگانو یوه هغه بیلگه وه چی ویی نشوای کولی دغه‌د عاته تحقق معمابنه غوره کړی ده . که څه هم دشاهنوازتنی دکودتاناکامی‌دځو مختلفوعواملو زیږنده گڼل کیږی چی یوهم دکودتاپه جریان کی له صحنی څخه دتنی وتل اوله مشرتابه څخه دنوموړی کودتابی برخی کیدل‌ؤچی کودتاکوونکوونشوای کړای دنجیب رژیم پرضد جگړی ته دوام ورکړی له همدی ځایه وو چی پاشیدلی قطعات دیرژروځپل شول اوکودتاله ناکامی سره مخامخ شوه او له همدغه ناکامی سره دتنی نقش هم په پوځ او نوروبرخوکی پای ته ورسید -تردی چی ویی نشوای کړای نه په مرکزاو نه هم په کوم سرحدی پوځی ارگان کی په دیره وړه سطحه هم کوم حرکت رامنځ ته کړی شی

اوهمداتکی وچی په پوځ کی دننه له کودتاسره منسلك قوتونه یی هم په شك او ترددکی واچول او دنوروراو راتلونکو اقداماتو جرئت او حرکت یی ورڅخه سلب کړ که داسی نه وی لږترلږه خو به ددوارو ډلو ترمنځ جگړه ورکړی چی کابل ته نژدی به دپرتو مجاهدینو په ملتیاجگړی ته درژیم ترنسکوریدودوام ورکړی.دابیابیله خبره ده چی ددغه کودتا په صورت کی دملت دارمانونو ددرناوی په اړه څه مثبت نتایج رامنځته کیدلی شوای او که نه ؟ سره لدی چی دکودتاپه لاره اچول او دهغی ترشاه احتمالی لاسونه او قوتونه‌خپله داپیښه دتأمل وړگرځوی چی لاتراوسه دکودتاکوونکودمشر او حزب ائتلاف او له هغی دمخه او ورروسته جریاناتو دیوی دومره ژرپای ته نه وه رسیدلی او یا به هم له کودتا سره موافق جهادی قوت ته داسی څه په لاس ورغلی وو چی په راتلونکی کی تری دنجیب رژیم پرضد مؤثره او فعاله استفاده وکړی شی .

لدی ورروسته بیاهم وخت په وخت دکودتاگانو اوازی خپریدلی او رژیم هم څو ځله دکودتاپه اتهام په پوځ کی تغییرات او تصفیی وکړی چی یوشمیرافسران یی زندانونوته واچول خوپدی وروستیو کی چی دهیواد دشمال پیښبودیوه نوی خوداندیښنی وړ انکشاف مخه پرانستله دکودتاخبری او اوازی یوځل بیاگرمی شوی .

په ښکاره‌خو ددغوکودتاگانو ترشا په لومړی سرکی دحزب اسلامی او بیا داحمدشاه مسعودنقش او طرحوته اشاره کیږی .کتونکی پدی نظردی چی له ښاغلی حکمتیاراو مسعود دواړو سره درژیم او پوځ ځینی لوړ رتبه غړی اویاهم په مجموع کی رژیم اړیکی اوڅه طرحی لری او هریویی جلاجلادکودتاله پاره په فعالیت مصروف ساتلی دی .

> کتونکي پدي نظر دي چي له ښاغلي حکمتیار اومسعود دواړو سره درژیم اوپوځ ځیني لوړ رتبه غړي او یاهم په مجموع کي رژیم اړیکي اوڅه طرحي لري اوهریو یي جلا جلا دکودتا لپاره په فعالیت مصروف ساتلي دي

لکه مخکی موچێ وویل دهیوادشمال وروستیوتاوجنو پیښتو دام وضوع یوځل بیا دمبصرینو او دډله ائیزواړیکو دوسایلو مخی ته راوپستله او وروستیو حوادثو داهم په ډاگه کړه چی په ربښتیاهم دادواړه اړخونه پدی هکله دخپلو طرحواو پروگرامونو د عملی کولو په لټه کی دی .

که څه هم کابل رادیوپه کابل کی دوروستی کودتاپه اړه خپاره شوی خبرونه ردکړل او دهغه شپی دزی یی معمولی امنیتی دزی ویللی او همدارنگه په بالاحصارکی لگیدلی اوریی دبریښناپه لینونوکی دخرابی زیږنده ویلله خو داحقیقت یی پټ نشوای کړای چی دپوځ په داخل کی هره لحظه دیوی حادثی او ټکر ډیرقوی احتمال موجوددی -دغه نوی حوادث له هغی ورروسته رامنځ ته شول چی نجیب دملگروملتونو دطرحی په قبال کی د راتلونکی عبوری حکومت له جوړیدو سره د استعفی او ددغه حکومت په مکانیزم کی دبرخی نه اخیستلو اعلان وکړ. دنجیب دااعلان ملگروملتونو او دافغانستان ترقضیی اړوند بهرنیو هیوادونو تائید او دهغی هرکلی وکړخو دافغانانو په منځ کی دنجیب داستعفی اعلان هغه مجبوریت تعبیرکړای شو چی لدی پرته یی بله لاره نه لیدله .

داڅرگندحقیقت دی چی دنجیب رژیم په هیڅ صورت نور دبقاچانس نلری او همدااوس هم په کابل او درژیم په ارگانونوکی قدرت تقسیم شوی ښکاری چی نجیب ورو یوه سمبولیك سرحد ته نژدی کوی خو داچی دنجیب دړنگیدونکی او مخ په زوال رژیم له سقوط ورروسته افغانان له کومی لاری څه ډول ارگان جوړ کړی چی دنجیب له رژیم وروسته دواگوچاری په لاس واخلی او دبی امنی اوگډوډیو مخه ونیسی .داهغه ربړه ده چی مقاومت له یوبل گواښ او ازمویښت سره مخامخ کوی

پدی لارکی دکودتانقش هم دامنیت دټینگښت اوهم دقانونی مشروعیت او هم دسولی دتحقق او وینوتویولو دمخنیوی له امله کمزوری او له شك او سوالونو سره مخامخ لیدل کیږی او طبعی ده چی نوی او خطرناکی

> پدي لارکي دکودتا نقش هم دامنیت دټینگښت اوهم دقانوني مشروعیت اوهم دسولي دتحقق اووینو تویولو دمخنیوي له امله کمزوري اوله شك او سوالونو سره مخامخ لیدل کیږي

په ٦مخ

دنبوی لمر زرینی وړانگی!

۷-ژباړه او لنډیز :رحیمزی

داسلامی لښکر په مینځ کی یو خطرناك فکر راپیدا شوی وواو مخ پر زیاتیدو وو او هغه داسی چی ډیری گومان کاوه داسلامی دلښکر دسترو فتحو اوبریو یوازینی عامل دخالد(رض) دمټو زور دی ، دی خطرناك فکر که په همدی توگه پرمختگ کړی وای ، نو خامخا به دمسلمانانو دایمان قوت کمزوری کیده ، او پر الله (ج) باندی دتوکل ، اعتماد او دهغو په نصرت او غلبه باندی دایمان درلودلو پر ځای به دمسلمانانو دباور او اعتماد مرکز یو انسان گرځیده چی له یوه فانی بنده او عاجز مخلوق څخه پرته بل څه نه وو .

دغه ډول فکر نه یوازی دمسلمانانو دعقیدی او ایمان لپاره زیانمن وو ، بلکه دپوځی تاکتیك له لحاظه هم ډیر خطرناك گڼل کیده ، ځکه داهغه زمانه وه چی دپوځ قوماندان دقوماندی په مر کز کی نه کیناست ، بلکه دجگړی په لومړی صف کی به یی خپل پوځ کنترولاوه ، او له همدی امله هره لحظه دیوی حادثی دپیښیدو امکان وو .

مخکی لدی چی دغه ډول فکر دمسلمانانو په مغزو په پوره ډول حاکم شی ،حضرت عمر (رض) دپوځ له قوماندی څخه دحضرت خالد(رض) دلری کولو پریکړه وکړه ، تر څو پر الله (ج) باندی دمسلمانانو اعتماد او دخپل دین پر حقانیت دهغوی یقین او باور ضعیف نشی ، او مسلمانان دغه حقیقت درك کړای شی چی اصلی قوت او قدرت دهغوی د شمیر په زیاتوالی ، دعسکرو په زړورتیا او دجنرالانو په شخصیت کی نه ، بلکه پر الله (ج) باندی ایمان او دهغه له ذات سره اړیکی ، ددی دین لوړ او انقلابی اصول او تعلیمات دی .

بل لوری ته حضرت عمر (رض) لا خپل دغه تصمیم دعمل په ډگر کی نه وو پلی کړی چی خالد (رض) خپله او په خپل لاس ددی کار لپاره زمینه برابره کړه ، پیښه داسی شوه چی اشعث بن قیس نومی یوه شاعر دخالد(رض) په مدحه کی یوه قصیده وویله ، خالد(رض) دهغی په انعام کی لس زره درهمه نوموړی شاعر ته ورکړل ، حضرت عمر (رض) دخپلو افرادو په هر لوی او واړه عمل باندی ژورنظر درلود ، او په معمولی غلطی باندی یی سخته نیونه کوله ، هغه پدی ښه پوهیده چی دډیرو وړو او غیر مهمو موضوعاتو څخه تیریدنه ، کله ناکله خطرناك نتایج رامینځ ته کوی ، چی ټوله اجتماع او ټولنه متاثرولای شی .

کله چی دخالد (رض) له طرفه شاعرته ددی غلط انعام خبر حضرت عمر (رض) ته ورسید ، نو دابو عبیده (رض) په نامه یی یو فرمان ولیږلو تر څو دخالد (رض) څخه دده ددی اقدام په هکله پوښتنه وشی چی ده دغه پیسی دکوم حساب څخه ورکړی؟ که یی دمسلمانانو له بیت المال څخه ورکړی وی نو خیانت یی کړی ، اوکه یی دخپل مال څخه ورکړی وی ، اسراف یی کړی چی پدی دواړو حالتو کی هغه دمعزولی وړدی .

خالد(رض) ځواب ورکړ چی ده دغه پیسی دخپل شخصی مال څخه ورکړی او دامیرالمومنین دحکم په اطاعت سره یی دیوه عام سپاهی په توگه په اسلامی لښکر کی خپلی دندی ته دوام ورکړ .

ورروسته بیا حضرت عمر (رض) هغه ته حکم وکړ چی مدینی ته حاضر شی ، مدینی منوری ته په رسیدو سره خالد(رض) دامیر المومنین (رض) له خوا تر شدیدی محاسبی لاندی ونیول شو ، چی بالاخره خالد(رض) په دی بریالی شو چی امیرالمومنین ته اطمینان ورکړی .

واضح خبره ده چی دداسی ډول معزولی څخه ورروسته به دخلکو په مینځ کی ډول ډول خبری کیدی ، په تیره بیا دیوه صحابی ددیانت او امانت په هکله به خبری کیدی ، او پدی مینځ کی ځینی کسان داسی هم وو چی دخالد(رض) سره یی همدردی درلوده ، او هغوی به دامیرالمومنین دغه اقدام تر

په ٦مخ

جهادي ادب

په غم غمجن انسانیت دپاره
هوره ښادي غواړو راحت غواړو
موږ ددنیا په هره څمکه باندي
ښکلي نظام دشریعت غواړو

تکل

دخواهشاتو سیلاب !

سید شهریار

دهمدغو لاهو شویو له لاسه ښکلی هیواد لوټی لوټی شو پل ،پل یی قبرونو ډښته او راغه یی هدیرو ونیوه په سیندونو او ویالو کی یی داوبو پر ځای دمومن ملت وینی وبهیدی ،غر او ګړنګ یی دبمونو او اورونو په بدرګه دغوښو او وینو سره غاړه غړی شول لـه هر در او لـه هرکوره دویر ساندی پورته شوی هر چاغم درد ولید ، وینه یی ولیده زخم یی ولید بیلتون یی ولید ناکردی نادودی ستونزی مشکلات داهرڅه یی په ځان هم ولیدل او په نورو هم خودیوه هدف او مرام لپاره او لاخدای (ج) خبر چی تر څوپوری به یی نور وويني !

ښه می په یاددی یواځی زما نه ددی هر یوه په یاد دی، همدغه پسرلی به په هیواد کی دښکلا ، خوښی ، مینی ، محبت او ورور ګلوی پسرلی و همدغه خوشبویه پسرلی به و چی په ټول هیواد به یی شین بخملی څادر وغوړاوه ،همدغه پسرلی به و په هره دښته او راغه کی به ګل او بلبل دمینی پټ پټونی کول ،خو خدای خبر ولی رابانـدی دخواهشاتو په بهیر دلاهو شویو بدمستانو دادخوښی ورځی تر ډیره پیرزونه شوی هر څه یی راویران کړل په هر څه یی اورونه پوری کړل :

تاسی وګوری دی پسرلی ته .

ایا پسرلی داسی وی؟

وچا په خوله خندا لیدل کیږی !چیرته ګل یابلبل لیدل کیږی ؟

نه چرته هم نه! هیواد تورو لوخړو په سر اخیستی دی هر څه بل ډول دی نه دپسرلي هغه رنګ شته او نه هغه خوند !

هیـواد وران دی کـورونـه کندواله دی زړونه دردیدلی ترهیدلی او تپی شوی دی بس په کوڅه او چنه دغم درد دښمنی ، تربګنی ځانځانی ، خودخواهی ، او ... خبری دی مینه نشته وروګلوی محبت نشته اتفاق نشته خدای خبر ولی همدا زموږ پر سرونو دغم زاغان وزرونه تپوی .

خو نه داسی هم نه ده زموږ ملت دادمن دی ویاړمن دی او انشالله چی بریالی او سرلوړی هم دی .

څکه چی اوس هم مومن اوباشهامته ملت دیوه روڼ سباوون په امید خپلی هلی ځلی ګړندی کړی دی دیوی سپینی رڼا په تمه ،دیوی داسی رڼا چی په ټول هیواد کی بی ورانګی دخلکو او نړیوالو سترګی وبرېښوی، هغه رڼا پیژنی ؟

هغه رڼا ده د محمدی (ص) شریعت سپینه رڼا دکومی لپاره چی همدغه زوریدلی ملت دغه ستر تکلیفونه وګالل .

او ریښتیا هم زموږ دمسلمان ولس دغه ستری قربانی دهمدغی ارمان او هدف لپاره وی موږ په نورو خبرو نه پوهیدو موږ خو ویل دسپین میدان خبره به وی همدغه سره لیوان به وی او زموږ په لاسوکی بریښنده سپینه توره موږ څه خبر و چی «دبوسو دلاندی داوبو تیرولو» له وخت سره به هم موږ مخامخ کیږو، هغه چی اوس پټ لاسونه زموږ ښنی رانیسی ،زموږ مخه نیسی موږ خپل هدف ته نه پریږدی ، موږ ښه پوهیږو چی ولی اوس دخواهشاتو په سیلاب لاهو شوی نادانان زموږ سره دروغـی جـوړی ورورۍ او دوستی خبری کوی .

خبره په داګه ده دوی ولیدل دسرپه سترګو یی ولیدل همدا زموږ قهرمانانه مبارزه وه چی دنړی له ستونی څخه یی دسرو لیوانو پنجه پورته کړه او داسی یی پورته کړه چی دتل لپاره یی پورته کړه دوی خـو بـه اوس خامخا دځان دخلاصون لاری لټوی . .

خودهیواد لویشت ، لویشت څمکـه ددوی دظلمونـو ستمونو جنایاتو فاجعو بی غیرتی ماتی او رسوایی شاهده ده دوی په دی هیواد کی له موږ سره یو ځای وخت نشی تیرولی دوی داهیواد پلورلی دی دوی وطن خرڅوونکی دی ،او موږ وطن ګټونکی او ساتونکی .

خو افسوس چی همدغه دخواهشتاتو په بهیر لاهو شوی منافقان نن په یوه بله څیره په یوه بله جامه زموږ مخی ته دریږی په رڼا سترګوکی پخپلو تیرو جنایاتو دبطلان کرښه راکاږی او موږ ته ځان زموږ خواخوږی او سوله غوښتونکی رامعرفی کوی ، هیواد ته ئه ګوری کنډوالو ته نه ګوری دردیدلو کیږدیو ته نه ګوری هدیرو قبرونو بیرغو او معیوبینو ته نه ګوری بس خپلو خواهشاتو ته ګوری نور هیڅ نه وینی .

یواځی دوی له خپلی ماضی څخه سترګی نه پټوی بلکه زموږ څنی دوستان هم ددوی له تیری ماضی څخه سترګی پټوی نه یی تیرو جنایاتو ته فکر کوی او نه هم دغو سترو ظلمونو ته :

خو اخرموږ انسانان یو ! هغه بیله خبره ده چی موږ هغه انسانان نه یو چی دانسانیت دتباهی لپاره اسباب برابر کـړو او لاری چـاری یـی وسنجوو موږ نه اتوم جوړ کړی او نه زهرجن ګاز موږ داهیڅ هم نه دی کشف کړی موږ نه پردی هیوادونه وران کړی او نه موانسانیت تر پښو لاندی کړی .

موږ تل دمینی محبت خبری کړی موږ همیشه مینه ورکړی او مینه مولیدلی موږ همیشه دیوه الله تعالی په قوت او ذات یقین کړی موږ نه اتوم منلی او نه دنیاوی ګازونه :

او همیشه به همداسی وی موږ به دیوه الله تعالی په وحدانیت یقین کوونکی انسانان یو .

خو بیا هم اخر زموږ په څیر انسانان هم یوفکر لری یو ذهن لری او یو مغز لری .

موږ خو وینو همغه ډله همغه دخواهشاتو په سیلاب لاهو شوی ډله ،همغه زموږ اوزموږ دهیواد دقاتلانو ډله کومه

په ۸مخ

دخزان نخښې

شفیقي

خلاصی موسلګی شوی ته لاپاتی یی
خاوری مو ځوانی شوی ته لاپاتی یی
سری دوحشتونو اوستم خونی
ختمی پر نړی شوی ته لاپاتی یی
وریت یی چی جهان کړ په لمبو دغم
مړی هغه سپرغی شوی ته لاپاتی یی
ښکیل یی چی انسان غوښت په زنځیردغم
خښی یی کوپړی شوی ته لاپاتی یی
وخندل تپو مو بهارونو ته
تیری سری سیلی شوی ته لاپاتی یی
شومی دتزویر اوچل اوول حالی
رنګی په تادی شوی ته لاپاتی یی
هغه دباغیانو لعنتی نظام ؟
ماتی یی پوستی شوی ته لاپاتی یی
ولمبیدی ستی په خونی شبنم
ځلی ککری شوی ته لاپاتی یی
ای زموږ په بڼ کی دخزان نخښی
غلی بربوکی شوی ته لاپاتی یی .

دنورڅلی

احتساب

امیرالمومنین حضرت عمر(رض) چی کله د«حمص» سیمی دخلکو شکایات واوریدل ، له یوی خوا ډیر حیران شو ،اوله بلی خوا اندیښمن ، هغه پرسعید بن عامر (رض) باندی ډیر زیات باور اواعتماد درلود ، اوله همدی امله وو چی هغه یی دحمص والی ټاکلی وو ، هغه دسعید (رض) په هکله ددی شکایاتو توقع نه درلوده ، ولی دحمص داوسیدونکو داستازو په هیات کی هم معتبر اوبارسوخه افراد شامل وو ، دتحقیقاتو لپاره یی حضرت سعید (رض) مدینی منوری ته راوغوښت .

کله چی حضرت سعید بن عامر (رض) دخلافت دربار ته راورسید نوحضرت عمر (رض) دحمص دخلکو استازی هم راوغوښتل اوهغوی ته یی وویل چی خپل شکایات دسعید بن عامر (رض) په مخ کی وړاندی کړی.

هیأت خپل شکایات په لاندی ټکو کی وړاندی کړل .

* دحمص ګورنر (حضرت سعید (رض)) معمولا دلمرله راختلو نه ډیر وروسته هم له کور څخه بهر نه راوزی .
* دشپی له خوا که څوك دهغه سره لیدل غواړی ، اوهغه رابولی نوحضرت سعید (رض) ځواب نه ورکوی .
* په میاشت کی یوه ورځ دهر ډول رسمی کار څخه ډډه کوی او له کور څخه بهر نه راوزي .

کله چی هیات خپل شکایات واورول ، نو امیرالمومنین وفرمایل :

سعید(رض) ! ستاسره ددی شکایتونو لپاره څه ځواب شته ؟ اوته دخپل برأت لپاره څه ویل غواړی ؟

حضرت سعید بن عامر (رض) وویل :

په خدای (ج) قسم ! زما خوښه نه وه چی داخبری دی یادی شی ، ولی اوس چی زه داحتساب اومحاکمی دمیز ترشا ودرول شوی یم ، نو ددی نه پرته بله چاره نشته چی هغه بیان کړم .

حضرت سعید (رض) وویل :

زه دلمر تر راختو ډیر وروسته څکه له کوره راوزم چی زه کوم خادم نلرم ترڅو دکور په کارونو کی راسره مرسته وکړی ، او څنګه چی زما میرمن هم ټول کار په یوازی ځان نشی ترسره کولای ، نولدی امله دسهارله خوا دکور په کارکی له هغی سره مرسته کوم اوپدی توګه دکور نه په راوتلو کی ځنډیږم ، اوزه دکور ترکار وروسته دخلکو دخدمت لپاره تیاریږم اوبهر راووزم .

ددوهم شکایت په هکله هم مانه غوښتل څه ووایم مګر مجبوراً دهغی ځواب هم وایم ، حقیقت دادی چی ما ورځ دخلکو خدمت ته وقف کړی ، اوشپه دالله (ج) عبادت اوبندګی ته ، څکه نو چی زه کله په عبادت مصروف وم ، دهغی دغونو ځواب نشم ورکولای ددریم شکایت ځواب دادی چی زما سره نه خادم شته ، اونه داغوستلو لپاره اضافی جامی .

چی زه یی تبدیلی کړم ، دهمدی امله په میاشت کی یو ځل زه خپلی خیرینی جامی وینځم او کله چی هغه وچی شی اغوندم یی اوله کور څخه راوزم پدی توګه نورځی یوه زیاته برخه تیریږی اوزه نشم کولای له چاسره وګورم ، اوپدی توګه دی خلکو ته زما څخه دشکایت موقع په لاس ورځی .

دحضرت سعید (رض) دځواب په اوریدو سره دیوی خوا دحمص داوسیدونکواستازی مطمین شول اوله بلی خوا دحضرت عمر (رض) په څیره کی دخوښی اوخوشحالی اثار راپیداشول .

امیرالمومنین (رض) دخدای (ج) شکر ادا کړ ، او ویی فرمایل :

« زما بصیرت اوپوهی دسعید بن عامر (رض) په هکله غلطی نده کړی»!

دشوروي تر زوال وروسته :

دگورباچوف اودهغه دکورني ژوند

له بهرنیو منابعو څخه : ژباړه – «ملاخیل»

سهار وختی دلمر له راختلو دمخه دماسکو په اطرافو کی دپاخه عمر یوی میرمنی دخپل وړوکی اپارتمان دروازه خلاصه کړه ، پداسی حال کی چی په یوه پلاستیکی پاکټ کی یی دشپی څخه دپاتی شوی خوړو پسمانده ، دوچــی ډوډی پــارچــی ، هـدوکـی ، دپـخـو شـویـو کچالیانو پوستکی داطاق دپاکولو څخه راپیدا شوی خاوری ، او تـوتـی شـوی کاغذ او داسی نور راغونډ کړی وو ،له خپل کور څخه راووتله ، تر څو قدمه تللو

دماسکو ولسي خلك په طنزيه لهجه وايي چي دلته ديوه ستر سلطنت داقتصادي بنيادونو درنګولو اوددريمي نړي ددريمي درجي په يوه جمهوريت دهغي دبدلولو دلاروچارو درس ورکول کيږي ترڅو دنوبل جايزه وګټلاي شي

وروسته یی دکوڅی په یوه کونج کی دکثافاتو په یوه مخزن کی پلاستیکی پاکټ واچولو ، او بیرته خپل کور ته ستنه شوه .

پدی وخت دشا او خوا ټول خـلـك ویـښ شـوی وو، پـه کوڅه کی ښځی دتلو راتلو په حال کی وی ، ولی هیچا هم دی ښځی ته څه پاملرنه ونکړه ، پداسی حال کی چی ټول پدی پوهیدل چی دا ښځه «رئیسه گورباچوف » وه ، د«میخایل گورباچف » ښځه چی څو میاشتی وړاندی دشوروی لـومړی مـیـرمـن (ملکه) وه ، او گورباچف هغه سړی وو چی دگوتی په یوی اشاری سره یی کولای شول دنیا په ایرو بدله کړی . خو نن هماغه گورباچف ، په اشپـزخـانـه کـی دغـرمـی د ډوډی دبـرابـرولـو پـه لـړکـی د«ریسی » سره مرسته کوی .

دگورباچف ستر شوروی اتحاد له مینځه تللی ، کمونیزم دخپل داخلی درنښت اوفشار لـه امـلـه تـوتـی شـوی ، گورباچف اوس دروسیی په نوی حکومت کی دیوه عام ښاری حیثیت لری ، دهغه دپخوانیو خدماتو په خاطر هغـه تـه پـه میاشت کی (۳۹۰۰) روبـلـه ددولـتـی خزانی څخه ورکول کیږی ، چی داسعارو په اوسنی بازار کی یوازی (۶۰) ډالره تری جوړیږی .

د«اندیپندنت » له تلویزیون سره دیوی مرکی په ترڅ کی گورباچف وویل :

«زه چی کـلـه دلومړی ځل لپاره بازار ته ولاړم ، یوازی دخوشیانو په اخستلو زما څخه (۵۰۰) روبله مصرف شول ، دوکاندار یو وړوکی پاکټ زماپه لاس کی راکړ ، او زما څخه یی دومره زیاتی پیسی واخیستلی ، په تیره میاشت کی ما او «ریسی » کله چی ټول ضروریات پوره کړل ، او حساب مو وکړ ، نو زما ټول معاش (۳۹۰۰) روبله ختم شوی وو ».

گورباچف تیره اونی دخپل ژونـد"۶۱"م کـال پـای تـه ورسـاوه ، او دجـنـوری پـه میاشت کی یی خپل دولتی هستوگنځی خوشی کړی دی او مـیـرمـن یی خـپـل نـوی کورته منتقل شول ، ددریو اطاقـودرلودونکی دغـه کور ددوی دضـرورتـونـو لـپـاره کافی ندی ، له همدی امله دگورباچف (۲۰زره) جلده کتابونه ، او قیمت بها اسناد په یوه اطاق کی بی ترتیبه غورځیدلی دی .

گورباچف دکتابونو دی انبار او دقیمتی روانی څپی ته په کتلو سره که څه هم وارخطا ندی ، ولی شکایت لری چی دده مـعـاش لـږدی ، او پـه هـغـی سـره ژونـد نـشـی تیرولای . ځکه نو دکورنی دچلولو لپاره هغه کار لټوی .

داسی اوریدل کیږی ، چی دسـیـاسـت دزده کـړی یـوه نړیوال انستیتوت گورباچف ته دانسـتـیـتـوت دریـاسـت وړاندیز کړی ، همدارنگه یوه لوړ تیراژه اخبار هغه ته دخپلو خاطراتو دلیکلو وړانـدیـز کـړی ، او یـوه بـلـه جریده پدی لټه کی ده چی گورباچف هغوی ته هفته وار سیاسی «کالم » ولیکی ، دامریکا پوهنتونونه هغه ته سترگی په لاره دی .

هـمـدارنـگـه دانـگـلـسـتـان پـخـوانـی صـدراعـظـمـی « مارگیریت تاچر » داشارو په ژبه ویلی دی چی «ددی له خوا په جوړشوی سازمان کی به دگورباچف گډون کول ، یوه قدرمنه اضافه وی ».

گـورباچـف پـدی تـولـو پیشنهادونو باندی غوراو فکر کوی ، ولی نوموړی دا حقیقت هم لـه پـامـه نـه غورځوی چی پدی ډول دی منحرف بلل کیدای شی .

(دیـادونـی وړده چـی ددی مـضـمـون تر خـپـریـدو لـږ وروسته نړیوالو مطبوعاتو خبر ورکړی چی گورباچف دفـلـمـی نـړی سره ارتـبـاط نیولی او دفلمی لوبغاړی په توگه یی په کار پیل کړی ، «ژبارن ») .

د«گـلاسـنـوسـت»او

د« گلاسناست » اوپروستروبکا جوړونکي گورباچوف اوس دخپل هيواد داقتصادي حالت دښه کولو پر ځاي ډيرخپلي کورني ته دنفقي برابرولو په فکر کي دي

پروستوریکا » جوړونکی گورباچف اوس دخپل هیواد داقتصادی حالت دښه کولو پر ځای ډیر خپلی کورنی ته دنفقی برابرولو په فکرکی دی . او س هـغـه دژونـد دترخو حقایقو سره مخامخ کیږی ، اوس هغه ته داخبره ضـروری گـرځـیـدلـی چـی دپښوتر غزولو دمخه دخپل فرش وسعت ته پام وکړی .

له همدی امله هر سهار چی کله اخبار راځی نو هغه تر ټـولـو ړومـبـی د«ډالـر»او «روبلو » دتبادلی دشرحی ستون گوری ، او له هغی نه دااندازه اخلی چی دعام بازار دحساب له مخی دهغه په معاش کی څومره کموالی بازیاتوالی راغلی .

«مـیـخـایـل گـوربـاچـف » دپـخـوانـی شـورروی اتحـاد پخوانی جمهور رئیس دی ، له همدی امله هغه دعامو ښاریانو پـه پرتـلـه له ډیرو اسانتیاوو او امتیازاتو څخه برخمن دی ، هغـه تـه دیوه دولتی اپارتمان داستـعـمـال کولو له اجازی پرتـه ، یو موتر هم ورکړل شوی ، دهغه دامنیت دساتلو لپاره (۲۰) تنه محافظین تل حاضر وی ، ولی په عامه ژوند کی هغه یوازی گورباچف دی ، دهغه دکور شااو خواته تقریباً ۱۲ کورنی نوری هم اوسیږی چی داټـول تـقـاعـدی دولـتـی مـامـوریـن دی . او دهـغـی زیـاتـره هـغـه خلك دی چی گورباچف دخپل اقتدار په وخت کی هغوی لـه دنـدو څـخـه ایـسـتـلـی وو ، د«اندیپندیت » تلویزیون سره دمـرکـی پـه تـرڅ کـی گورباچف داسی وښودله چی دمعاش ژوند دهغه لپاره ډیر اطمینان ښښونکی دی ، هغه دخپل ځان دمصروفه ساتلو لـپـاره یـوه مـوسـسـه د« گورباچف فاوندیش» په نامه جـوړه کـړی ، چـی دهـغـی دفتر دده له کور څخه په لری فاصله کی واقع دی ، له کور څخه تر دفتر پوری په خپلو پښو تلل دگورباچف لپاره گرانـه ده ، لـه هـمـدی امـلـه دروسیی نوی جمهور رئیس «بـوریـس یـلـتـسـن » دهغه دامشـکـل ورحـل کـړی ، او هغه ته یی یو دولتی موتر ورکړی ، ولی په مسکو کی هیڅ څوك پدی نه پوهیږی چی ددی «فـاونـدیـشـن » ددیوالو نو تر شاڅه کیږی ؟ دماسکـو ولـسی خلـك په طنزیه لهجه وایی چی دلته

په [illegible] مخ

دنورپه لور

زه ولی مسلمان شوم ؟

داکتر عبدالله علاوالدین «جرمنی»

نوولس کاله کیږی چی ما اسلام قبول کړی دی .

زه په لس کلنی کی په ذهنی توگه ازاد او خپلواك شوی وم او دمنطق په اصولو می فکر کاوه ، زه یی دجرمنی دپروتستانو په طریقه په کلیسا کی شامل کړم له پاپ څخه می ددری خدایانو «تثلیث» دعقیدی مطابق زده کړی واوریدی ، پاپ راته ویل چی «خدای زوی او روح القدس» دری هم دی او یو هم ، خودلږ عقل خاوند هلك هم په دی پوهیده چی دری کله هم یو نه شی کیدای او همدغسی یو هیڅکله دری نشی کیدای ، دری دری دی او یو بیل .

زما به زړه کی داراوگرځیده چی داخبره کومه الهامی خبره نه شی کیدای او چا له خپله ځانه په دغه عقایدوکی ورگډه کړیده ، پادری «دعیسویانو ملا» راته ویل چی د مریمی زوی «عیسی (ع)» پر دار وځړول شو ، یعنی هغه داقربانی ورکړه چی ټول پیروان یی نجات ومومی .

ماچی له هغه څخه په دی باب لږ نور توضیحات وغوښتل نو هغه دځواب پر ځای په غوسه شو او راته ویی ویل چی ته دخدای (ج) له وجود نه انکار کوی .

زه وپوهیدم چی نوموړی «پاپ» دخیتی غلام دی ، له خدای (ج) او دین سره یی هیڅ رابطه نه شته بالاخره ما پخپله دبایبل مطالعه پیل کړه دانجیل او تورات له لوستلو وروسته می دبودایی دین په مطالعه پیل وکړ، تردی وخته پوری زه له اسلام څخه ناخبره وم .

زما دزړه له کومی داهیله وه چی په یوشکل دکایناتو دپیدایښت په حقیقت وپوهیږم چی ایا دانسان دژوندانه څخه هدف څه دی ، دانسانی ژوندانه مقصد له حیوانی ژوند څخه په وار وار باید لوړ او دسپیڅلی هدف لپاره وی ، او ایاالله تعالی انسان دڅه لپاره پیدا کړی دی ؟

ما تر نوو کلونو پوری شپه او ورځ مطالعه کوله ، په یوه شواروزکی ما ایله دوه گنټی خوب کاوه ، دخوب تښتولو لپاره می توندی دواگانی استعمال کړی ، دسترگو په ښو به می څه وروکی توته کیښوده چی سترگی پټی نه کړای شم ، په دی ډول زما روغتیا هم زیانمنه شوه او څه په لاس هم رانه غلل ، او کله چی زما ارادی ځواك ځواب راکړ نو دالهی رحمت می لاربښوونه او لاسنیونه وکړه ، مادیوه جرمنی پیلوټ سرگذشت لوست چی دمنځنی ختیځ زیات هیوادونه یی لیدلی وو ، دغه جرمنی پیلوټ دخپلو معلوماتو دښودلو لپاره داخلاص سوره او دهغی ژباړه هم راوړی وه ، دهغه په جرمنی ژباړه می چی سترگی ولگیدی نو حقیقت می په خپلو سترگو ولید او حیران پاتی شوم لیکلی یی وو چی :

روایه ای پیغمبر چی الله (ج) یودی ،« هغه الله چی انسان یی له خپل ازلی پیدایښت نه په موندلو او لټولو کی سرگردان دی » نه الله (ج) لـه چانـه زیږیدلی ، او نـه لـه اللـه نـه څوك زیږیدلی ، او په دی دنیا دهغه هیڅ سیال او ساری نشته ، ما په خپل ژوند کی دلومړی ځل لپاره لوستل چی نه الله (ج) له چانه زیږیدلی او نه له هغه نه کوم زوی زیږیدلی ، دغه ایت ډیر زر زما عقل ومانه ، خو ما داسلام او دهغه داحکامو په باب څه علم او پوهه نه درلوده ، ځکه می کوم نهدی اسلامی هیوادته دسفر اراده وکړه چی هلته داسلام په باب معلومات حاصل کړم ، گوندی ماته هغه څه په لاس راشی چی دا پنځه ویشت کاله وریسی سرگردانه یم .

زه یوه غریب سړی یم نو ځکه ماله جرمنی نه تر استامبول

په ۷ مخ

ایا کودتا واقعي او امناکه حل رامنځ ته کولي ...

موضعگیری او ائتلافونه رامنځته کوی او احتمال لری چی پدی صورت کی دهیواد په نوروبرخوکی دهمدغه ډول هڅوپه نیجه کی دمختلفو عواملو له مخی داډول هلی ځلی رامنځ ته شی او قدرت دمرکزی حکومت په ځای په ډیرو لاسونو کی تقسیم پاتی شی.

همدارنگه دی ته ورته دکوم بل اقدام لپاره ددوو او یاڅوتنظیموهڅی هم دمطلوبی نتیجی په ورکولو کی بی وسه ښکاری خو داسی یوه طرحه او اداره چی هم دګډودی بی امنتی او وینو تویولو مخه ونیسی او هم دملی او بین المللی وجاهت لرونکی وی هغه ده چی دافغانانو درعایت ورعناصرواو په جهاداو مقاومت کی مطرح ټولو طبقو په نمایندگی بهرنیو هیوادونو له فشارپرته دیوه -لنډمهالـه حکومت په جوړیدو موافقه او دهغی عملی کولو اقدام دی پداسی توگه چی نه دپیښور او نه دایران تنظیمونه په خپل انحصارټینگ ودریږی او نه هم دافغانانو نور اړخونه -څکه دافغانی ټولنی دخصوصیاتو له مخی به هرهغه حکومت چی دافغانی ټولنی دټولو اړخونوکه هغه سیاسی لیډران دی او که جهادی قوماندانان ،علمادی او که قومی مخوراو یاهم روشنفکران او پخوانی کارپوهان گډون او تائید ترلاسه نکړی دټینگښت، دوام او یاهم کامیابی چانس ډیرکمزوری لیدل کیږی.

اختلافات دسیاسي لیډرانو په منځ کي ...

پوښتنه :لکه چی نړیوالو مطبوعاتو هم خپره کړه نجیب دعبوری حکومت له جوړیدو سره دټولو اجرائیوی امورو څخه داستعفی اعلان وکړ ، پداسی شرایطو کی مجاهدین باید څه ډول موقف خپل کړی ؟

ځواب : دنجیب اعلان کوم نوی اعلان نه دی هغه څو ځله دا اعلانونه کړی دروسانو په وخت کی هم هغه اعلان وکړ چی مجاهدین دی موږ سره یو ائتلافی حکومت جوړ کړی چی دټولو مجاهدینو له خوا رد کړی شو کله چی دبین سیوان ، سعودی عربستان ایران او پاکستان او نورو له خوا دسیاسی حل لپاره هلی ځلی پیل شوی نو زموږ ځینی وروڼه مسکو ته لاړل او پدی دوکه شول چی ورته ویل شوی وو چی نجیب به گوښه کیږی اوافغانستان کی به یو اسلامی حکومت جوړیږی .

خو چی زموږ دوکه شوی وروڼه ډیر ژر پوه شول اواوس دملگرو ملتو دنماینده او نورو هغو ملکونو څخه چی دسیاسی حل په پروسه کی شامل وو لار ورکه ده او حتی داسی تبلیغات کوی چی داورور وژنه ده خو که خبره دکفر او اسلام وگڼو نوبیا دا ورور وژنه نه ده بلکه زموږ جگړه جهاد دی او دا جهاد موږ دروسانو دیرغل دمخه پیل کړی و اواوس هم په ټولو مسلمانانو فرض دی دنړی مسلمانان باید غفلت ونه کړی څکه اوس دافغانانو دجهاد له امله کفار په ویره کی دی او غواړی دخپلو دسیسو له مخی دجهاد خنډ واقع شی خو دمجاهدو افغانانو دایمانی قوت په برکت دکفارو ټولی دسیسی دناکامی سره مخامخ شوي او مخامخ کیږی او هم مجاهدینو په دی ورځو کی دمزار شریف ښار فتحه کړی اودغه ښار چی دکابل او حیرتان بندرپه سرك واقع دی اوپه کابل یی لار قطع کړی دډیر اهمیت وړ دی ، یو کال کیږی چی مجاهدینو خوست ازاد کړی پدی نژدی کی به انشاالله چی گردیز او غزنی هم فتحه کړی نو نجیب څکه وارخطا دی اونه پوهیږی چی څه وکړی خو موږ ټولی دنیا ته وایو چی نجیب هرڅه وکړی او هر چیرته ولاړ شی مجاهدین به یی محاکمه کوی څکه ده دافغانستان دارایی تباه کړی دوه میلونه مسلمانان یی شهیدان کړی

> دبیاودانولو لپاره کار جریان لري ، دتعلیم او تربیي په برخه کي هم ډیر کار شوي اوجریان لري ، فصلونه کرل شوي ، اودصحت په برخه کي هم پوره کار روان دي

او هم ده سره چی په کفر کی مره شوی تعداد ددی څلورو ملیونو ته رسیږی موږ به ددی ټولو حساب دروسانو، نجیب او دهغی دډلی سره کوو.

پوښتنه : که په گردیز کی دمجاهدینو پر پوځی وضعیت اودرژیم دقواوو دمحاصری په هکله څه معلومات راکړی ډیره مهربانی به مو وی ؟

ځواب : دگردیز وضعه په اوس حال کی ډیره ضعیفه ده یو داچی دلته ددوستم او گلم جم ملیشی قوتونه پراته وو هغه دمزارشریف دفتحی څخهمخکی تللی دی څکه ددوی اوورژیم تر منځ اختلاف راغلی ؤ او اوس یی دلته دهرات اوقندهار څخه ملیشه راوړی ده خو دغی ملیشی دا درك کړی ده چی دکابل رژیم موږ دلته دمرگ دپاره راوړی یو اوبس نو دوی هم دنجیب سره مخالف دی څکه په تیرو څو ورځوکی ددی ملیشو څو گروپونه دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی ، خو مجاهدین دداورو او سوړ موسم په وجه خپل اکمالات نه شی کولی نو څکه یی عملیات ودرولی دی په گردیز کی ولسی خلك هم دنجیب مخالفت کوی څکه چی هلته یی هم دتاجك او پښتون تر منځ تفرقه اچولی ده اودغو خلکودرك کړی ده چی یوازی اسلامی قوانین کولی شی چی ټول مشکلات حل کړی په دی ورځو کی دکابل رژیم لوړ رتبه ماموړینو دمجاهدینو سره خپل ارتباطات ټینگ کړی زه ویلی شم چی ډیر ژر به انشاالله دمجاهدو تنظیمونو له خوا دوسله وال قیام په نتیجه کی دکابل رژیم نسکور شی .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب تاسی ووېل چی په نژدی راتلونکی کی به دکابل رژیم دیوه وسله وال قیام په نتیجه کی رانسکور شی نو که له مجاهدینو سره درژیم دنسکورولو په صورت کی یو واحد قیادت او واحده اداره موجوده نه وی نو دملت اواره او امنیت به وساتلی شي ؟

ځواب : مجاهدین پله اداره دی کله چی په افغانستان کی کفر راغی نو ټول مسلمانان په یوه غږ اویوه اسلامي عقیده راپورته شول او جهاد یی پیل کړ چی دغه اسلامی عقیده خپله اداره ده اوس هم که دمشرانو تر منځ کوم اختلافات وی وی به ولی مجاهدین ټول په خپلو منځونو کی متحد دی نو کله چی په کابل کی داسلامی تنظیمونو اویا یو اسلامی تنظیم مجاهدین قدرت تر لاسه کړی نورو ته به وایی چی راځی اوس په گډه کښینو او اسلامی شریعت جاری او اهل کارو ته کار وسپارو دا دهر تنظیم دمجاهدینو غوښتنه ده بیا هم که کوم مشر په بل فکر وی وی به خو له قوماندانانو سره دافکر نه شته او امنیت دقوماندانانو په وسیله منځ ته راځی چی زه یی ښه مثال خوست ښودلی شم دا اوس ټول مجاهدین په شریکه هر مجرم ته سزا ورکوی او ټول اجتماعی کارونه په ښه نظم روان دی په ټولو ازادو شوو سیمو کی دشپی او ورځی کاروانونه روان دی څوك دغلا او چورچپاول جرئت نه شی کولی ولی موږ گورو چی زموږ په گاونډیو ملکونوکاپه رڼا ورځ غلا کیږی خلك وژل کیږی او داسی نور .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب تاسی دیوه دینی عالم او جهادي قوماندان په صفت په اوسنیو حساسو شرایطو کی جهادی زعامتونو او ملت ته څه پیغام لری ؟

ځواب : له سلام وړاندی کولو وروسته مجاهدینو ته زما پیغام دادی چی موږ دمحمد (ص) اخری پیغمبر

په ۷مخ

دنبوی لمر زرینی ...

ضرورت زیات سخت گڼلو . او داهیله یی هم درلوده چی خالد (رض) دی بیرته داسلامی پوځ داعلی قوماندانی دنده په غاړه واخلی .

ولی لکه چی پورته یی ذکروشو ، حضرت عمر (رض) په فانی شخصیتونو باندی د کامیابی او بریالیتوب دنه منحصر گرځولو لپاره دخالد(رض) دبرطرفی په اقدام لاس پوری کړی وو . څکه نو دهغه دبیرته تاکل کیدو هیڅ امکان نه لیدل کیده ، ولی ددی سره سره امیرالمومنین د والیانو په نامه په خپل پیام کی عام خلك دخالد(رض) دبرطرفی له اصلی علت څخه خبر کړل ، تر څو غلط فهمی او بدگمانی لری شی ، حضرت عمر (رض) دبیلا بیلو ولایاتو والیانو ته لیکلی وو :

«خالد(رض) می دکوم خپگان یاخیانت له امله ، له دندی څخه ندی گوښه کړی ، بلکه ددی امله می گوښه کړی چی خلك دده له امله په فتنه اخته شوی وو ، خلکو هغه (خالد رض) دومره لوی او عظیم بللو ، چی ددی اندیښنه راپیدا شوی وه چی خلك دخالد(رض) په ذات باندی خپل باور او اعتماد ټینگ نکړی .

زه غواړم چی خلك دغه حقیقت په خپلو اذهانو کی پوخ کړی چی څه کوی هغه یوازی الله (ج) کوی ، بنده هیڅ حیثیت نلری او پدی توگه هغوی به فتنه کی پری نوزی .»

ترمعزولی وروسته خالد (رض) دحضرت عمر (رض) له خوا دحران ، امد او سرته سیمو دوالی په حیث وټاکلو ، ولی خالد(رض) دجگړی دمیدان سړی وو څکه یی تر لنډی مودی وروسته دولایت دنده پریښوده او په کور کیناست، خالد(رض) په ۲۲ هجری کال له نړی څخه سترگی پټی کړی .

حضرت عمر (رض) دهغه له مرگ څخه سخت متاثر شو ، او ویی فرمایل :«دخالد(رض) له وفات څخه داسلام په قلعه کی داسی درز جوړ شو ، چی کله به یی هم څوك ډک نشی کړای ،کاشکی الله (ج) دهغه عمر اوږد کړی وایی .»

خالد(رض) داسلام سرلوړی او ستر جنرال وو ، ډیر زړور او شجاع وو دجگړی ډگر هغه ته دکور حیثیت درلود ، تر ایمان راوړلو وروسته یی ټول عمر دالله (ج) په لار کی په جهاد کی تیر شو .

هغه تقریباً په یو نیم سلو جگړو کی برخه اخیستی ، هغه تل دعامو سپاهیانو په څنگ کی دجگړی په لومړی صف کی ، جگړه کوله ، دهغه ټول جسم دتورو او نیزو له داغونو ډك وو.

هغه به فرمایل :«ماته دجگړی دډگر تر ټولو سخته شپه ، نواده تر شپی هم گرانه او خوښه ده .» هغه خپل ژوند دالله (ج) له دښمنانو سره جگړی ، اوداسلام دبیرغ لوړوالی ته وقف کړی وو ، هغه به تل فرمایل :«دتوحید دکلمی څخه وروسته هیڅ یو عمل زما په نزد تردی زیات گټور او داجر موجب ندی چی توره شپه وی ، سخت باران اوریږی او زه په هماغه حال کی ډال او توره په لاس دسهار لپاره انتظار کوم.»

خالد (رض) به دژوند په وروستیو کی چی دخپل ژوند څخه مایوسه شوی وو ډیر افسوس او حسرت په لحجه ویل :

«افسوس ، زما ټول ژوند دجگړی په میدان کی تیر شو ، ولی دشهادت مرگ زما په نصیب کی نه وو ، او نن زه دمرگ په بستره کی څوریږم او ساه ورکوم .»

خالد(رض) که څه هم دکومی حربی مدرسی فارغ التحصیل نه وو ، ولی خدای پاك له داسی نظامی او عسکری استعداد څخه برخمن کړی وو ، چی دهغه هم عصر ، خلکو به ویل «تر څو چی دخالد(رض) په څیر یو تن هم په مسلمانانو کی موجود وی، هغوی تل بریالی اوسرلوړی وی ».

دتاریخ په اوږدوکی داسی خورا زیات جنرالان موږ لیدلی چی کله له خپلی دندی څخه لری کړای شوی دخپل حکومت پر ضد یی بغاوت کړی ، او خپل هیواد او قوم یی دکورنی جگړی لوری ته کش کړی ، ولی خالد (رض) چی فطرتاً تند خویه هم وو، دخپلی برطرفی او امر په پوره حوصلی سره اوری او دهغی نه اطاعت کوی ، دهغه عکس العمل ددی امر په مقابل کی دادی چی :«ماخپل نفس دالله (ج) په لار کی قربانی کړی »

په ۷مخ

دنبوی لمر ...

حضرت ابوبکر صدیق (رض) دهغه په هکله فرمایی :«سبځی دخالد(رض) په څیر دزوروزوی له زیږولو څخه عاجزی دی » که څه هم خالد(رض) ډیر وروسته داسلام په مبارك دین مشرف شو ، ولی بیا هم درسول اکرم (ص) په دربار کی دهغه اودډیرو پخوانیو صحابه وو مرتبه یو شان وه ، هغه په خپله وایی :
« له کومی ورځی چی ماداسلام دین ومانه ، رسول الله (ص) زما او ددنورو صحابه وو تر مینځ هیڅ ډول فرق او امتیاز ندی کړی .»
داسلام تر منلو وروسته دخالد (رض) زیاتره شپی ورځی دجگړی په میدان کی تیری شوی ، ځکه نو هغه ته دقران کریم او نبوی احادیثو دزده کړی پوره موقع په لاس نده ورغلی ، ولی ددی سره سره هم له هغه نه (۱۸) حدیثه روایت شوی دی .
دنورو صحابه کرامو په شان دخالد (رض) ژوند هم دتقوی، پرهیزگاری ، صالح اعمالو ، دینی غیرت او درسول الله (ص) په محبت کی تیر شوی . "رضی الله تعالیٰ عنهُ " "دنوربیا".

زه ولی مسلمان ...

پوری په بایسکل باندی سفر پیل کړ کله چی هلته ورسیدم نو ما دی خیال می دقرانکریم لوستل پیل کړل چی که په دغه سپیڅلی کتاب کی هم دبایبل ، تورات ، زبور او انجیلونو په څیر څه داسی غلطی وگورم چی عقل یی نه شی منلی ، خو بالعکس چی څومره مادقران مطالعه کوله هومره می په زړه کی ددی کتاب په ریښتونو ایمان اوباور زیاتیده ، چی همدا ریښتنی هدایت دی کوم چی زه یی په لټون پسی راوتلی یم ، زما باور راغی چی قران ریښتیا هم دالله (ج) کلام دی ، او بالاخره په ۱۹٥٤م کال په استانبول کی زه مسلمان شوم او الحمدلله لوی خدای(ج) ماته دغه ستر نعمت راپیرزو کړ.

دهیواد پیاوړي لیکوال ، محقق اوعلمي شخصیت استاذ احمدزي شهید شو !

په خواشینی سره مو خبر اخیستی چی دهیواد یو ستر گور عالم ، تکړه لیکوال دروند اوپیاوړی محقق استاذ احمد زی دروان کال دروژی په ۳۰ مه ورځ دسهار لمانځه

ته دتلو پر وخت دهجرت په کلی کی شهید کړی شو .
انالله وانا الیه راجعون
استاذ محمد جان احمد زی چی په ۲٦ ۱۳ لمریز کال کی دلوگر ولایت دمحمد اغی ولسوالی دسرخاب په دره کی زیږیدلی ؤ خپلی لومړنی زده کړی یی په ۱۳۳۷ لمریز کال کی دسرخاب په ښوونځی له دریم ټولگی څخه پیل کړی بیا په ابن سینا لیسه کی شامل شو اوپه ۱۳٤۳ لمریز کال کی یی دامام ابوحنیفه (رح) مدرسه کی په اسلامی زده کړه پیل وکړ چی په ۱۳٤۷ لمریز کال دامام ابوحنیفه مد رسی له دوولسم ټولگی څخه فارغ اودکابل پوهنتون دشرعیاتو پوهنځی کی شامل شو .
استاذ احمد زی له پوهنتون څخه له فراغت وروسته دشرعیاتو پوهنځی په علمی کدر (دحدیث شریف څانگه کی) ومنل شو اوپنځه کاله یی دشرعیاتو پوهنځی کی دعربی علومو ، اسلامی تاریخ ، علم میراث ، تعلیم القران اوداسی نورو علومو تدریس وکړ اوددی په څنگ کی یی دادبیاتو پوهنځی په عربی څانگه کی هم دتفسیر دتدریس دنده په غاړه لرله ،استاذ احمد زی داسلامی غورځنگ له فعالو او بنسټگرو دراکینو څخه و چی دپوهنتون په دوران کی داسلامی غورځنگ مظاهری اومیټنگونه ددوی له خوا په تلاوت پیل کیدل او څرنگه چی دی یوه غوره خطاط هم و، ټول اسلامی شعارونه ددوی له خوا لیکل کیدل او په هیواد کی دلومړنی اسلامی ازادی خپرونی گهیځ کلیشه هم ددوی له خوا انځور شوی ده.
شهید استاذ احمدزی دجهاد په دوران کی دجمعیت اسلامی دمرستیال ، دفرهنگی کمیتی درئیس اوپه بیلابیلو اتحادونو کی دبیلابیلو کمیټو دزئیس ، ددارالانشادمشر اودعالی او اجرائیه شورا دمنشی اوغړی په توگه وظیفه اجرا کړی استاذ احمد زی ددعوت والجهاد پوهنتون له تاسیس وروسته پدغه پوهنتون کی داستاذ په توگه وظیفه اجرا کړی اودپوهاند علمی رتبی ته رسیدلی و استاذ احمدزی له گڼو جهادی خپرونو سره قلمی همکاری درلوده اولدی مخکی یی هم دهیواد له معتبرو خپرونو لکه شرعیات ، قضا ، پیام حق اردو مجلو او نورو جریدو سره مسلسله قلمی همکاری کړی ، ددی په څنگ کی استاذ احمد زی لاندی ځانگړی اثار هم لیکلی دی :
۱- العدة فی الشعریعة الاسلامیة - په عربی ژبه ۱۳٤۷ هـ ش
۲- دمشکوة المصابیح دلومړیو فصلونو ژباړه - په دری ژبه ۱۳٤٦ هـ ش
۳- دشهید سید قطب د(هذالکتاب) پښتو ژباړه (داسلام لار)
٤- الجهاد فی الاسلام - په عربی ژبه ۱۳٥۱ هـ ش
٥- الاحوال الشخصیة فی ضؤالسنة النبویة - په عربی ژبه ۱۳٥٥ هـ ش
٦- داستاذ فتحی یکن (مشکلات الدعوة والداعیة) دلومړی برخی پښتو ژباړه (داسلامی دعوت دلاری مشکلات) ۱۳٦۱ هـ ش
۷- دالاربیعن النوویه - دری ترجمه ۱۳٦۱
داستاذ احمد زی چی دخپلو عالمانه لیکنو او تقریرونو له مخی یی په علمی او ادبی حلقو کی اوچت مقام گټلی و ناڅاپی شهادت دټولو علمی ، مطبوعاتی او ادبی حلقو دژوری خواشینی سبب گرځیدلی اودانقلاب پدی حساسو اوتاکونکو شرایطو کی یی دده مړینه ډیره ستره ضایعه گڼلی ده .
زموږ دعا ده چی الله تعالی دی استاذ احمد زی ته جنت فردوس اوخپلوانو ، دوستانو ، او شاگردانو ته یی اجر جزیل اوصبر جمیل ورپه برخه کړی .

دخواهشاتو سیلاب ...

چی نن موږ ته دروغی جوړی خبری کوی په یوه تهغر دکیناستو بلنه راکوی کله راته هیوادوال کله وروڼه او کله .... وایی، ښه یی پیژنو چی په خوله یی یو څه او په زړه بل څه دی ددوی په خوله لا همغه درام ، رام کلمی زمزمه کیږی خو مجبوردی څه وکړی بله لاره نه لری اخر سیاست دی سیاست خو وایی همدی ته ! خو زموږ او ددوی اړیکی شکیدلی ځکه چی ددوی اړیکی داسلام دمبارك دین سره شکیدلی دی ددوی په عمرنو کی زړونه او په خوله کی ژبی نشته دوی ددنیاوی خواهشاتو په سمندر لاهو شوی دوی به ټول یی په همدغی سمندرکی غوپی وهی دوی یواځی یواځی دمجاهدینو بریښنده توری له دغو بدبختیو څخه را ویستی شی او بس !

اختلاف دسیاسي ...

وع امت یو دهغی اخلاق او عادات باید په ځان کی ثابت کړو او دهغه په نقش قدم روان شو ځکه موږ چی جهاد پیل کړی دپیغبمر صلی الله علیه وسلم په نقش قدم مو پیل کړی او په لومړی وخت کی مو په تش لاس ډیر بریالیتوبونه ترلاسه کړی او اوس چی موږ په هر لحاظ ډیر امکانات لرو پکار داده چی سره متحد واوسو او جهاد ته ادامه ورکړو ځکه پیغمبر(ص) فرمایی کوم خلك چی جهاد پریږدی پر هغوی به ذلت راځی نو مجاهدینو ته پکار دی چی دتکلیفونو سره سره هم خپل جهاد ته دوام ورکړی او ددوی جهاد باید یوازی داعلا کلمة الله دپاره وی .

کشورهای آسیای میانه ...

کمونیست جهان در ارتباط قایم نمودن روابط اقتصادی ، سیاسی وفرهنگی با این کشور های نو به ازادی رسیده در مسابقه قرار دارند ، چین که هنوز دارای سیستم اقتصادی وسیاسی کمونستی میباشد میخواهد به این کشورهای که عده انها همسایه وهم سرحد ان هستند ازطریق قایم نمودن روابط اقتصادی ، سیاسی وفرهنگی نفوذ نمایند ولی ازیك سوکشورهای اسیای میانه مزه تلخ کمونیزم را چشیده اند وازسوی دیگر اکنون چین درمقابل ایالات متحده امریکا در حالت دفاعی قرار دارد وازهروقت دیگر برای انتشار سیستم کمونستی درجهان وتحت تسلط در اوردن کشورهای دیگر از امکانات کمی برخوردار میباشد .

علاوتا در راس کشورهای اسیای میانه نیروهای قرار دارند ویا این نیروها ازنیروهای متاثر میباشند که درسقوط امپراطوری کمونستی روس نقش نامحسوس ولی اساسی داشتند واین نیروها نه خواهد گذاشت تاکشورهای نوبه ازادی رسیده اسیای میانه باردیگر در دام کمونیزم بیافتند اما تاجائیکه مربوط به جمهوری اسلامی ایران است باید متذکر شد که درکشورهای اسیای میانه مسلمانان شعیه مذهب نسبت به سنی مذهب کمتر میباشد واین حالت ازنفوذ دولت ایران که قدرت سیاسی انکشور در دست روحانیون شیعه مذهب قرار دارد تا اندازه می کاهد ، علاوتاً مسلمانان کشورهای اسیای میانه درطول هفتاد سال به زندگی عادت نموده اند که دولت ویا سیستم به شیوه کنونی ایران را شاید تحمل نتوانند. اینهامسایلی ظاهری بودند که ممکن است هر کس به اسانی انرا درك نماید ولی چیزیکه پوشیده به نظر میرسد و درواقعیت ازهمه مهمتروتعین کننده است وهرکس نخواهد توانست انرا به سادگی درك نماید نفوذ ونقش تعین کننده ان نیروها در دول نوبه ازادی رسیده اسیای میانه میباشد که درسقوط امپراطوری روس نقش مرکزی داشتند .

این نیروهاعبارت ازپیش رفته ترین دستگاهای استخباراتی جهان غیر کمونست میباشد که در تعین سیاست واینده کشورهای اسیای میانه موثر بوده ونقش تعین کننده رادارا میباشد اینها از روابط ایران در ساحات مختلف با کشورهای مسلمان اسیای میانه نه تنها درهراس نمی باشند بلکه میخواهند ازاین طریق نیز در دستگاه دولتی ایرن نفوذ نمایند تابتوانند ازدرد سری نجات یابند که توسط دولت اسلامی ایران برای انها ایجاد شده است .

کشورهای ترکیه ، پاکستان ، عربستان سعودی و کشورهای دیگری مسلمان که سیاست های انها بالای نظریات پان اسلامیزم استوار نمی باشد سعی می ورزند با کشورهای مسلمان اسیای میانه روابط اقتصادی ، سیاسی وفرهنگی رابر قرار نمایند ایالات متحده امریکا که اکنون یگانه ابرقدرت جهان بشمار می رود وروابط نسبتا خوبی با دولت های ترکیه ، پاکستان وعربستان سعودی دارا میباشد نمی خواهد مانع روابط کشورهای مذکور با کشورهای مسلمان اسیای میانه گردد وهرگاه درکشورهای اسلامی اسیای میانه دولت های مانند ترکیه بوجود بیاید ایالات متحده امریکا از ان پشتیبانی خواهد کرد اگر پوست کنده گفته شود ایالات متحده امریکا درتعین سرنوشت وخط مشی کشورهای اسیای میانه نیز مانند همه کشورهای ایکه در نتیجه سقوط امپراطوری کمونستی روس بوجود امده اند نقش اساسی دارد ، ایالات متحده امریکا که دارای پیشرفته ترین دستگاه استخباراتی میباشد وازنقطه نظر نظامی حریفی در جهان ندارد ، درسقوط امپراطوری روس نقش نامحسوس ومهمی داشت این ابرقدرت یگانه جهان اکنون امکانات فراوان در دست خویش دارد تا سیاست کشورهای اسیای میانه راطبق دلخواه خویش به چرخش دراورد .

امریکایها اکنون دکمه ریموت کنترول کشورهای ازاد شده ازیوغ استعمار روس را در دست دارد که قبلاً روسها در دست خویش داشتند وازاین طریق به طور مطمین میتواند سیاست این کشورها را بادرنظر داشت شرایط وامکانات ان به نفع خویش به حرکت در اورد .

بقیه درصفحه ۸

دملګرو ملتونو دطرحې ...

کړی او دعبوری حکومت دجوړیدو په طرحه به په جدی توګه اقدام وکړی .

دکابل رژیم واکمن داکتر نجیب چی له دی مخکی دلندمهالی حکومت له جوړیدو سره داستعفی اعلان کړی ؤ اوس داهم ویلی چی که چیری دی ته اړتیا ولیدل شی نو دی به له افغانستان څخه وتلو ته هم غاړه کیږدی ،اوپه هر هغه اقدام به لاس پوری کړی چی دسولی او امنیت لپاره ګټور ثابتیدی شی .

که څه هم ملګرو ملتونو تر اوسه دپنځلس کسیزی شورا دغړو نومونه ندی په ډاګه کړی خوپدی هکله یی دخپل اطمینان او دسولی پروسی په وروستی بری دخپل داډ څرګندونه کړی ده .

دهیواد په شمال کی نوی انکشافات او هلته دملیشی پوځ او مجاهدینو دیوی خودمختاره اداری اعلان او ددی په څنګ کی درژیم په داخل کی دخاد ، پوځ اونورو حکومتی ارګانونو رقابتونه او خپل منځی سیالی چی هر یو دخپل قوت دترلاسه کولو او څرګند ولو هڅی کوی وضعه او حالات نور هم کړکیچن کړی ، او داسی ښکاری چی په کابل کی درژیم قوت په ډیره چټکتیا سره تیت پرك کیږی .

دعبوری حکومت دجوړیدو سره چی نجیب داستعفی کوم اعلان کړی و هغه ډیره بهرنی مبصر له خوا داډول تعبیر شو چی نجیب غواړی دافغانستان راتلونکی حکومت کی دځای پیداکولو په ځای دافغانستان په تاریخ کی حاسته ځای پیداکړی ، خو حقیقت دادی چی نجیب دملګرو ملتو دا طرحه د ځان لپاره یو داسی طلایی چانس ګنی چی په هیڅ قیمت یی له لاسه ورکول نه غواړی او لدی زیات دنور څه دلاسته راوړلو تمه او توقع نشی لرلی ، ځکه خو دده دغه ډول اعلانونه څه نوی خبره اوغیر منتظره نشو بللی داباید دومره حساب شوی وګڼل شی چی په ډیلی کی د نجیب او دده ملګرو دکورونو او اوسیدو دشرایطو لپاره لدی مخکی (لازم اقدام) تر سره کړی دی .

که څه هم زیاترو مجاهدینو دملګرو ملتونو دپنځلس کسیزی شورا منل او رد دشورا دغړوپه معرفی پوری منحصر کړی دی خواستاذ سیاف او مولوی خالص له یوی مخی دملګرو ملتونو هلی ځلی او طرحی ردکړی دی .

که څه هم له استاذ سیاف اومولوي خالص پرته نورو جهادي تنظیمونو په ګډه سره ددغه شورا په ترکیب توافق ښودلي ؤ خو اوس یې ځینو دافرادو نومونو ترښودلو خپل توافق مشروط کړیدي .

دښاغلی حکمتیار په رابطه ویل کیږی چی دلویی جرګی له انعقاد څخه دملګرو ملتونو تیریدل لدی امله و چی دوي ورسره خپل توافق تردی خبری مشروط ګرځولی و خو اوس دشورا دغړو په رابطه دحکمتیار صاحب ملاحظه بیا هم په ځای پاتی ده ، استاذ ربانی که څه هم پدی اړه خپل موقف پوره ندی څرګند کړی اوېدي هکله یې څه ژوولي ملاحظات څرګند کړي خو احمد شاه مسعود له مخکی څخه دملګرو ملتودطرحی دمنلو اعلان کړی ؤ.

که څه هم ملګرو ملتونو په ډاګه کړی چی دسولی دروانی پروسی په وړاندی هیڅوك خنډونه نشی ایجادولی خو حقیقت دادی چی دمجاهدینو له خوښی اوتوافق پرته دسولی دطرحی کامیابی دومره اسانه خبره نده دپاکستان صدراعظم نوازشریف هم له مجاهدینو غوښتنه کړي چي دغه طرحه ومنني ځکه اوس دمجاهدینو له خوا وړاندي‌شوي شرایط رعایت شوي دي،که څه هم ملګرو ملتونو له ذیدخله خواوو سره له یوي بلي مشوري وروسته ددغه شورا دغړو تصویبول اعلان کړي خوبیا یې هم دټولو خواوو توافق اوس هم له شك او تردید سره مخامخ دي .

دغرور او خواشینی ځای دادی چی مجاهدین په دغو وروستیو حساسو او تاکونکو شیبوکی بیا هم له واحد موقف او دریځ څخه بی برخی دی اوپدی رابطه دمجاهدینو دسیاسی مشرانو د مواقفو او موضیعګریو تر منځ ډیر زیات واټن لیدلی شی .

په دغو حالاتو کی ددی سخت ضرورت لیدل کیږی چی مجاهدین ډیوه واحد دریځ له لاری صحنی ته وړاندی شی او دهمداسی یوه قوی او متحد موقف له اړخه دخپل مجاهد ولس معیځلی ارمانونه او اهداف دبین المللی سازشونو له ګواښ څخه خوندی وساتی .

دګردیز دراډیو استیشن تخریب شو

ګردیز ، دجهاد هنداری خبریال :

په خوست کی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی دجبهاتوعمومی قوماندانی څخه ترلاسه شوی رپوټونه وایی چی زړورو مجاهدینو دوروکی اختر په څلورمه ورځ دیوه بریالی راکټی برید په ترځ کی چی په ګردیز باندی یی ترسره کړ وکولای شول دګردیز دراډیو دستګاه تخریب اونشرات یی معطل کړی .

رپوټ وایی پدی برید کی دمزدور رژیم ۲۰ تنه صاحب منصب اوملیشه له منځه تللی ، اوبی شمیره نوریی ټپیان شوی همدارنګه یوه غټه ډیپو هم دګولی دلګیدو له امله ورانه شوی .

بل لوری ته ویل شوی چی دکابل دهوایی ډګر څخه طیاری راځی اودمجاهدینو مرکزونه په ګردیز کی تربمباردمان لاندی نیسی .

دمجاهدینو دمشرانو او دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت دمسؤلینو خبری ناکامی شوی

پیښور – دحمل ۲۰مه

دپاکستان دحکومت لخوا دځمکی له لاری کابل ته دامدادی غنمو لیږلو په اړه دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت دمسؤلینو او دافغانستان دجهادی تنظیمونو دمشرانوتر مینځ خبری کومی نتیجی ته تررسیدو پرته پای ته ورسیدی .

دپاکستان دجنګ ورځپانی دخبر مطابق په هغو خبرو اترو کی چی ددواړو خواوو تر مینځ تیره ورځ ترسره شوی دمجاهدینو مشرانو ادعا درلوده چی دنجیب رژیم دغه امدادی غنم دعامه خلکو پر ځای پر خپلو پوځیانو ویشی او پدی توګه دهغوی له مینځه تللی قوت یو ځل بیا راژوندی کیږی .

ځکه نوهغوی دځمکی له لاری کابل ته دغنمو دلیږلو مخالفت کوی .

بل لوری دکابل له ښار څخه تر لاسه شوی ځینی رپوټونه وایی چی په تیرو ورځو کی دکابل ښاریانو دکابل دهوایی ډګر په شاوخوا کی

په پراخه مظاهرو لاس پوری کړی وو او درژیم څخه یی غوښتل چی دپاکستان امدادی غنم باید دپوځیانو

پر ځای پر عام ولس وویشل شی .

دیوی تقریبی محاسبی له مخی دپاکستان له خوا ورکړل شوی امدادی غنم دمزدور رژیم دپوځیانو دیوه کال لپاره پوره کافی دی .

دشوروي تر زوال ...

ډیوه ستر سلطنت داقتصادی بنیادونو دړنګولو او ددریمی نړی ددریمی درجی په یوه جمهوریت باندی دهغی دبدلولو دلارو چارو درس ورکول کیږی ، تر څو د«نوبل » جایزه وګټلای شی. دغه ډول زهرجنی جملی دګورباچف غوږونو ته

هم رسیږی .

حقیقت دادی چی لویدیځ والو چی څومره دهغه

دانقلابی اقداماتو توصیف کولو ، او اوس دهغه پر زوال څومره افسوس ښکاره وی ، دروسیی دننه دهغه لسمه برخه هم نه لیدل کیری .

«نورما»

کشورهای اسیای میانه ...

اگرقبل ازسقوط امپراطوری روس استخبارات روس درخدمت کمونستان روس بود اکنون به میل و فرمان ایالات متحده می جنبد وکشورهای اسیای میانه که استقلال سیاسی خویش را اعلام نموده اند ازنظم جدید جهانی ایالات متحده امریکا انحراف نخواهد کرد ودراین کشورها هم سروصدای اسلام بلند تر خواهد گردید وهم سیستم سرمایه داری مطابق به خواست ایالات متحده امریکا روی کار خواهد شد .

یك کندك نظامی رژیم درهرات بشمول ۱۲۰ فامیل به مجاهدین پیوست

هرات :

به اساس راپورهای رسیده از ولایت قهرمان پرور هرات یك کندك نظامی رژیم مزدور کابل مربوط لوای ادرسکن بشمول ۱۲۰ فامیل به قومانده داود به مجاهدین منطقه پیوست .

در راپور های رسیده ازمنابع جهادی این ولایت افزوده شده که قوای نظامی مذکور ۶۰ میل کلاشینکوف ، ۱۵ میل راکت ، آر پی ، جی هفت ، هفت پایه دستگاه مخابره ۳۰ میل ماشیندار ، یك میل زیکویك ، دومیل هاوان ، دوازده میل تفنگ ۳۰۳ بور ، دوازده میل تفنگچه ، دوازده عراده جیپ روسی ، دوعراده موتر سایکل سه صد فیر مرمی راکت ومهمات بی شماری باخود به مجاهدین تسلیم نمودند.

همچنان گفته شده که قوای نظامی رژیم مستقر در میدان هوایی هرات نیز تصمیم دارند به مجاهدین بپیوندند .

سازمان ملل تحفظ وامنیت نجیب را بعد از سبکدوشی تضمین می کند

اسلام اباد–۲۱حمل

به اساس راپورهای موثق گفته می شود که سازمان ملل تحفظ وامنیت نجیب رئیس رژیم مزدور کابل را بعد از خلع قدرت تضمین نموده است .

یك روزنامه مشهور پاکستانی می نویسد که بینن سیوان نماینده خاص سرمنشی سازمان ملل متحد برای حل تنازعه افغانستان طی سفرخیرش به کابل مذاکرات مهمی را دراین مورد بانجیب انجام داده است .

روزنامه مذکور در راپور خود افزوده است که بینن سیوان نجیب را اطمینان داده است که بعد از سبکدوشی در هر کشوریکه وی بخواهد ، باامنیت کامل زندگی نموده می تواند .

راپور می افزاید بینن سیوان

در این مورد برعلاوه شخص نجیب با مقامات دولتی پاکستان ، ترکیه و کشورهای دیگر نیز تماس گرفته ومقامات کشورهای مذکور به بینن سیوان اطمینان داده اند که در صورتیکه نجیب بخواهد در ان کشورها پناهندگی سیاسی حاصل کند ، مقامات دولتی کشورهای مذکور اعتراضی در مورد نخواهند داشت .

خبر همچنان می افزاید که مذاکراتی در این مورد بین مقامات دولتی هند ورژیم نیز صورت گرفته است .

از جانب دیگر یك سلسله راپورهای غیر تائیدشده حاکی از انست که نجیب وافراد برجسته حزبی وی همراه با گارد امنیتی وی یك کالونی مکمل را دریکی از شهرهای هند خریداری نموده تا بعد از برکناری از قدرت درانجازندگی نماید .

دورکی اعلان

وروړپیرسید محمد دپکتیا ولایت اوسیدونکی چی دعربی متحده اماراتو دالعین له ښار څخه پاکستان ته راغلی خپل یو دستی بکس یی دکراچی او هنګو تر منځ دلاری په اوږدو کی ورك کړی چی دیوڅه کاغذونو اونورو شیانو پرته دحبیب الرحمن په نامه دعربو دوه ویزی هم پکی وی ، که چاته پدی هکله څه معلومات وی اویا یی دغه بکس موندلی وی مهربانی دی وکړی اقلاً هغه دوه ویزی دی په لاندی پته راواستوی .

پاکستان – پیښور ، جی ، پی ، او پست بکس" ۱۱۰۷"

جهاد هنداره

دالحاج حقاني دجبهاتو دفرهنګي تولني خپرونه

پته : میرانشاه ، دج ، ج محاذ مرکزي دفتر فرهنګي تولنه

پوستي ادرس : پوست بکس – ۱۰۳۳ یونیورستي تاون – پیښور